دا خپرونه ستاسو د افکارو، نظریاتو او عقایدو څرګندویه ده.
تاسو کولای شئ خپل نظریات او عقاید نشریې له لارې خپاره کړی.

# نوې هیله
# Nawey Hilla

د تاسیس کال ۱۳۸۱ لمریز کال (۲۰۰۲ م)

په سویډن کښې دافغانانو د علمي او فرهنګي مرکز خپرونه — نشریه مرکز علمي و فرهنګي افغانان در سویدن

| NR. 3 | 2002 | November & December | ۱۳۸۱ لمریز کال عقرب او قوس | دریمه ګڼه |
|---|---|---|---|---|


## چند پارچگی، یا نظم واحد دولتی ؟

کشور عـــزیز مـــا افغانستان درا متـــداد رویدا د های مهم سیاسي– اجتماعي سده پیشین، بر مبنای تضاد های درونی ودر تحـــت تا ثیر کشمکشها میان ابر قدرت های آن دوران، بویژه در جریان جنـگ سرد ، درگـــیر منازعات گوناگون گردید ودر پایان آن، براي یکدهه کامل در شرایط تسلط ارتجاع بدست فراموشی سپرده شد . پس از حادثه یازدهم ۱۱ ، سپتمبر ۲۰۰۱ در آیالات متحده امریکا ، تغیرات بزرگی رخ داد و بار دیگر میهن مادر مرکز توجه جهانیان قرار گرفت. ولی برغـم آن، مردم ما هنوز محکوم به فقر عظیم وکشور ما هنوز دستـــــخوش بـــی امنیتیب ها ورقابت ها است.

حقا یق کنونی بیانگر آن است که با وجـــود نیا زمنـــدیهای شـــدید افغانستان وبا وجود شرا یط غم انگیز در افغانستان وبا وجـــودیکه وضـــع در افغـــانستان در ابعاد مختلف بحرانی تر از کشور های دیگر جهان است، توجه لازم در باز سازی کشور که اساس صلـــح و امـــنیت است صورت نمیگیرد .

دولت افغانستان توانایی آنرا ندارد ، که بتوا ند پروژه های باز ســازی و نو سازی کشور راطرح و تنظیم نماید و کمکهای وعده داده شـــده را به سرعت بکار اندازد .اعضاء حکومت بیش ازینکه در فکر باز سازی، نو سازی، امنیت، صلح وقا نو نیت در کـــــشـــور باشند ، در فکر این هستند که چگونه بتوا ند قدرتهاي شخصي و تنظیمي خودرا مستحکم ترساخته وجاودانه درقدرت بماندو بالای مردم مظلوم وفقیر افغانستان به زور اسلحه وخشونت آمیز حکمروایی نمایند .

نا توانی دیگر حکو مت این است که نتوا نسته در جریان این یك سال، اعتماد کار شناسان، تکنو کترا تان ، اهل سیاست واندیشه افغان را بر مبنای اساسات ، قانونی، مصونیت امنیتی وکا ر ي حا صـــل نموده و آنان را به همـــکا ری جلب نما ید . وا ضح است که باز سازی ونو سازی کشور در ابعا د مختلف بدون متخصصان، کار شنا سان ، کا درهای فني و تخنیکي افغان طوري شا ید وبـــا ید صورت گرفته نمیتواند و نظام د موکراسي بدون عنا صر، شخصیتها و احزاب دمــــــوکرات و با تجربه عملی شده نمیتوا ند .

ارقام وحقا یق نشاند هنده آنست که شرایط ووضعیت داخلی در جهت تضعیف دولت مرکزی وبه سود تفنگ داران محلی انکشاف مینماید .

آقای کرزی توسط نیرو های ضدد یموکراسی تفنگ سالاران وخشونت گرا محاصـــــره گر دیده ونظم وا حد دولتی به سوی چند پارچگی انکشاف میباید . نظم و قا نون دولتی انکشاف واستحکام نمیـــــیابد . وامنیت کـــشور به سوی بی امنیتی جر یان مییابد . امنیت راه های مواصلاتی بصورت مطمین تامیـــن نیست. عواید دولتی به درستي وآ مانت داری

باقي در صفحه ۲

داستان کوتاه — اکرم (عثمان)

## قحط سا لي !

سال بســیار سختي فرا رسیده بود. قحط چوب و ذغال ، قحط میوه و دانه، قحط تیل و تنبا کو، قحط نان و آب ، قحـــط عـــــقل و هوش، قحط امن و آسا یش، قحط وفا و صـــفا، قـــحط رحم و مـــروت، قحط مر دي و مر دمدا ري و با لآ خره قحط عدل و داد بیداد میکرد .

یکځ ملکځ آبا د یکپا رچه را امیران وا میر زا ده گا ن پا ر چـــه پا ر چه کر ده بو دند و مـــا نند ملکځ طلق و میرا ثي نه فقط به نام نوه ها و نـــبیر های شـــــا ن نـــیز قبا لـــه کر ده بو دند. در پشت هر پشته پا د شا هي ودر پشت هر سنگ رهز ني کمین کر ده بود ما دران، صوبه گر وعر وسا ن، سیا هپوش بو د ند . در کمتر ین خا نه يي بود که گلیم عزا هموار نبود ودر کمترین کلبه يي بود که کلبه نشیني، زا نوي غم در بغل ندا شت .

در چنین ربز و احوا لي، وضع » کا که حیدر» ســـر خیل کا که هـــا ي « ده افغـــا نـــان» ، « بـــا لا کـــوه » و « نو آباد » غـــیر قا بل قـــیاس با د یگران بود. مد تـــها بود که از قا ش پیشا ني اش زهر زا میزد و لبهاي ار چـــق گرفته اش به خنده باز نمیشد. دیگر به « هـــر کاره » نمیر فت و در میدانها ي پهلوا ني ظا هر نمیشد .

باقي در صفحه ۶

غوث ( خیبري ) ـ جرمني

## په افغاني هویت باندې د اعلیحضرت امان الله خان غازي تینګار

دتاریخ په اوږدو کي، د نړۍ زبر ځواکـــونو، هـــر چیرې ته او هر کله د خپلو ځانګـــړو مـــوخو او سیاسي ناروا مقصدونو لپاره بي ساري کرغېړن عمـــــــلونه سرته رسولي چې دبشریت په تندې باندې يې د تکـــو تورو رټو ا و داغونو حیثیت لرلی دئ.

د تېر شوي پېر د زبر ځواکو نو له جملې نه یو برتانیا وه چـي د پیښلیکونو په وینا لمر يې په امپرا طو رۍ کې نه ډ وبیـدې او د نړۍ او له نیمایي څخه زیا ته برخه کښې یې ښکـــیلا کـــي منګلې ښخې کړې وې خو همدغه زبرځواك د لمړي ځل لپاره د افغان ولس سره په جـــګړه کـــې را سملاست او د غه ډول ماتې بیا د افغانانو سره په جګړو کې دوه ځلې نور هم تکرار سوي.

د افغان اتل ولس په وړاندې د لویې برتانیې دریيمه ماتـــې په ۱۹۱۹ میــــــلادي کـــال کې وه چې پایله یې دافغانانو دپاره د افغانستان سیاسي خپلواکي او په نړۍ کي دیو سیال، سرلوړي او ویاړلي آزاد او له افغاني غرور نه ډ ك هېواد منځ ته را تلل وو. پـــــدغه ډول افغان ولس یو ځل بیا په تاریخ کې ددې حقیقت ثبوت ور ـ ړ چې نه یوازې د آسیا دوچې بلکې د ټولې نړۍ په ولسونو کې یو اتل او په آزادۍ مین سربښندونکئ ولس

پاتې ۴ مخ

# چند پارچگی، یا ....

جمع آوری ومصرف نمیشود . بسیاری از ادارات دولتي درداخل وخارج عوایددولتی رابدون مجوزبودجوی به مصرف میرسانند . در حالیکه هرگونه عواید و مصارف دولتی بایددر داخل بود جه دولتی ازطریق بو دجه دولتی صورت بگیرد .

باو جود آن امید واریها و زمینه های برای ارایه اندیشه، نظرو عمل سیاسي براي بیرون رفت ازین وضع نیز پدید گردیده است .

اکنون زمان آن فرا رسیده است تا با نتیجه گیریهای واقعبینا نه از گذشته، آنانیکه در راه رهایی مردم از قید وبند و اسارت سیاسی و ملي، اجتماعي واقتصا دي اندیشیده ومبا رزه کرده اند، در اوضاع و احوال کنونی نیز در قطا ر سایر نیرو های تحول‌طلب وآزادیخواه در داخل وخارج کشور به فعالیت همگون، علني ومسالمت آمیز بپردازند .

نیرو هاي پرشمار روشنفکران کشور که غالبا درکشورهاي گونا گون جهان پرا گنده شده اند، میتوانند که درتفا هم وهمسویی با نیرو های ترقیخواه دا خلی مبا رزه سیاسی پرتوان رادرجهت تعمیم دموکراسی و تامین عدالت اجتماعی درافغانستان سازمان بخشند . ازین جاست که ضرورت تفاهم وانسجام بمثابه کانونی برای سازماندهی تلاشهای روشنفکران وعناصر ترقیخواه وعدالت پسند بو جود میآ ید .

اداره .

**Nawey Hilla نوې هیله**

د امتیاز خاوند:
په سویډن کې د « نوې هیله »خپرونه د لیکونکي ډلي تر نظر لاندې
د امتیاز خاوند: په سویډن کې دافغانانو علمي او فرهنگي مرکز.
مسئول مدیر: حبیب الله « غمخور » .

پته: Ghamkhor Habibullah
Snödroppgatan 7
215 27 Malmö
SWEDEN
ټلیفون: Tel&Fax: 0046-40-219 87 9
موبایل: Mobil: 0046-736511569
E-mail: nawey_hilla@hotmail.com
Internet Online Address:
www.hewad.com/naweyhilla

# په سویډن کې دافغانانو د علمي او فرهنگي مرکز د نظر ټکي د افغانستان دروانو حالاتو په هکله:

## دلوي خداي(ج) په نا مه!

ښاغلي حا مد کرزی د افغانستان ولس مشر !

د بهرني تیري، لاسوهنو او سیاسي قدرت ته درسیدو لپاره دوسله والو ډلو تر منځ په افغانستان کي څه دپاسه دوویشتو کلونو جگروڅخه را وروسته چي افغانا نو ته پکښې ستر ځاني، ما دي او معنوي تا وانونه ور اوښتي او هیوا د يي په کنډ والو بدل کړئ دئ..

د طالبانو درژیم د ړنګیدو وروسته د نړیوالو هیله په افغانستان کي د یو پراخ بنسټي، با ثباته او سوله ایز دولت را منځه کیدل وو او په دې توګه يي د کا بل د ښار څخه دوسله والو ځواکو نو ننو تل منع کړل. خو متا سفانه داسي ونه شول!

دبن د کنفرا نس پریکړې که څه هم د کیفیت او ترکیب له مخي نیمګړې وې، خو ولې په هیواد کې د یوې منځ مهالي اداري منځ ته را تلل ستاسو (حا مد کرزي) په مشرئ د یوه ښه اقدام په توګه د ستا یلو وړ دي.

د نوي اداري په مشرئ په ملي او نړیواله کچه د حاکمیت د ټینګولو، د کابل په ښار کي د (آیساف) د امنیتي ځواکونو ځاي پر ځاي کول، د توکیو په کنفرا نس کي فعاله ونډه، دبیړنئ لويي جرګي جوړول، نوئ انتقالي دولت، دمهاجرینو بیر ته ستنیدل هیواد ته، دستانه شوو هیوادوالو دپاره د مرستو پراختیا.... او داسي نور چي په هیواد کي د سولي ، ثبات او امنیت په ټینګولو کي رول لوبوي، دیا دولو وړ دي.

په خواشینئ سره با ید وو ایو چي پد غه موده کې ډیر هغه څه چي د هیوادوالو هیله وه په جدیت سره تر سره نه شول. تر اوسه لا هم سوله او ثبات د خطر سره مخامخ دي، جنګ سالاران په خپل قوت پا تې دي، د مخدره موادو تو لید او قاچاق مخنیوئ په بشپړه توګه نه دئ شوئ ، تر اوسه هم د بن د کنفرانس دپریکړو په هکله مقا ومتو نه شته او د مرکزي حکو مت د پرو ګرا مونو څخه سر غړوني کیږي، د ملي اردو جوړول یوازې په خبرو کي پا ته شو اوکا دري سیاست اصلا مطرح نه دئ. او داسي نور.

په داسي حال کي چي دا دندې د منځ مها لي اداري او انتقالي حکومت له توان څخه بهرخبره نه وه، خو په ډیرو ښکاره دلا یلو د هغه د اجراء کولوڅخه وروسته پا تې شوه.

د ټولو نا خوالو او مقا ومتونو سره، سره د تا ریخ په د غه حساسه شیبه کي ډېر مناسب فرصت په لاس راغلئ دئ چي په هیواد کې سوله ټینګه شي ، دد مو کراسئ او د بشر حقوقوته ددرناوي پر اوصولو د خلګو په خپله خوښه انتخا بې حکو مت استقرار او استحکام ومومي، هیواد بیا جوړ اود سیالو هیوا دو په قطار کي ودریږي.

دا ملي مو خه هغه وخت منځ ته را تلاي شي چې:

- داسې یو پراخ بنسټه ملي- سیاسي ځواک يي تر شا ودریږي چې د افغانانو اکثریت خلګ ور څخه ملا تړ وکړي، ملي ګټې له هر ډول شخصي-ګروپي، قومي، سمتي او نورو ګټو څخه لوړې وګڼي.

- دنړئ والو ځواکو نو د مرستو څخه په خا صه هوښیارئ د ټو لو افغاني وطنپرستو روښانفکرو عناصرو په ګډون د هیواد د بیا رغوني په پروسه کي لا زمه ګټه او فعاله ونډه واخلي.

- ددې لپاره چې نوئ اساسي قانون دافغانانو لپاره د منلو وړ وګرځي ضروري بریښي چې د اساسي قانون مسوده شپږ میاشتې مخکې تر انفاذ د عامه نظرغوښتنې لپاره خپره شي.

- راتلونکې لویه جرګه نه باید د مخکنئ بیړنئ لویې جرګې په څېر وي، بلکې ټولو افغانانو ته په ډیموکراتیکځ شکل اجازه ورکول شي چې خپل استازي په خپله خوښه لويې جرګې ته وټاکي.

که چیرې واقعاً تاسو ښاغلئ د ولس مشر (کرزی) غواړئ چې په افغانستان کې یواځې قانون واکځ ولري، توپکځ او سلاح خپل ځای و قلم ته پرېږدي، د ښځو حقوقو ته درناوی وشي او په نهایت کې ټول مدني او ډیموکراتیکځ ارزښتونه تر پښو لاندې نه شي ضرور ده چې توپکځ سالاري ختمه او کار و اهل د کار ته وسپارل شي.

- په اروپا او خاصتا د سویډن د مالمو په ښار کي افغاني روښانفکران چي په هیواد کي دیو متمد نې، د موکرا تیکې افغاني ټولنې د بیا رغیدو دڅپاره د هیواد ټو لو د موکرا تیکو، وطنپرستو او روښانفکره ځواکونو ته، چې پر هغوي د ساز نده نقش پوره باور شته، بلنه ورکوي چې: ټولې تیرې نا خوالې شا ته وغورځوې او په بین الا فغاني تفاهم، اسلا مي ورور ولئ یو دبل سره د یووالي لا سونه ورکړي او خپل وېجاړ هېواد دتل لپاره آباد او په نړیواله کچه د یوه پر مختللي هېواد په توګه يې و نړیوالو ته ور پېژني.

- سویډن یو د هغو هېوادو څخه دی کوم چې د ډېرې اوږدې مودې راهیسې يې دافغانستان دخلګو سره د روغتیايي ، ښووني او روزنې او همدا ډول په اوسنیو شرایطو کې د بیا جوړونې په بهیر کې فعاله ونډه اخیستې او اخلي يې.

موږ مهاجر افغانان تر بل هر هېواد په سویډن کې ځان مسئون ، آرام او خوښ احساسوو، سویډن یواځنی هېواد دی چې په ښوونځیو کې زده کوونکو ته د مورنئ ژبې د لیکځ او لوست شرایط برابر کړي دي. ولې په ډېرې خواشینئ سره نه افغانستان او نه سویډن د خپل منځې ښو سیاسي اړیکو په لرلو سره بیا هم دیپلوماتیکې نماینده ګی یو د بل په هېوادونو کې نه لري. غوښتنه کیږي چې:

- ددواړو هېوادو تر منځ سیاسي نماینده ګی پرانیستل شي.

ومن الله تو فیق.

**پورتني د نظر ټکي د ډسمبر د میاشتې په ۱۸ نېټه حامد(کرزي) ته زموږ داستازو له خوا په ستاکهلم کې وړاندې شوه.**

## په افغاني هویت باندې....

دئ او داهغه یوازینی لامل دئ چې افغانانو د نړۍ او په ځانگړي ډول د آسیا په تاریخ کې له ویاړلو ډك ځای لاس ته راوړی دی.

د نړۍ د هغه وخت زبر ځواك په وړاندې، د افغانستان دخپلواکۍ دجگړې دپیل کولو همت او جرأت زلمی پاچا اعلیحضرت آمان الله خان غازي وکړ. په داسې حال کې چې د یوه وړوکي اسیایي هیواد مشر پېژندل کیده. د پام وړ خبره داده چې دافغان پاچا له خوا دهېوادد خپلواکۍ د پاره جگړه په د اسې وخت او زمان کې پیل شوه چې پراخ او لوی هندوستان باندې د برتانیې دواك چلولو څخه څه د پاسه سل کاله تېر سوي وو او د هند پنځه سوه میلیوني ولس د غلامۍ د جغ لاندې وو. بلشویکانو ( ورسته کمونستانو ) د منځنۍ آسیا په مسلمانو او غېر مسلمانو هېوادونوکې حکم چلاوه او د مسلمانانو جوماتونه یې په کلیساگانو اوبیا په نڅاځایونو او شرابخانو بدل ړي وو.

اعلیحضرت آمان الله غازي خپل گران افغانستان د نړۍ د خپلواکو هېوادونو په کتار کې ودرولو او د افغان ولس د ننگ او غیرت شمله یې هسکه کړه لیکن برتانیې له نوموړي پاچا او افغان آزادۍ غوښتونکي ولس څخه د غچ اخیستلو په هوډ غازي آمان الله خان د شیطاني توطیې او دسیسې له مخې له واکه گوښه کړ او د هغوی په ځای یې یو پېژندل شوي لاره وهونکۍ او غل (حبیب الله کلکاني ) چې په ختہ تاجك وو پاچاهۍ ته ورسا وه او په دې ډ ول د انگرېزانو د پلان له مخې د نهو میاشتو لپاره د پښتنو د واکمنۍ د لړۍ په شلولو د یوه غېر پښتون واکمني رامنځ ته کړی شوه خو حقیقت دا وو چې تاجك روښان فکرو اووطنپالو تر پایه پورې نوموړۍ لاره وهونکۍ تایید نه کړ بلکې مخالفت یې ورسره څرگند کړ او د هغه د نسکورولو په فکر کې وو آن چې دهغه په پاچاهۍ شرمېدل.

دافغانستان د ترقۍ او ولسواکۍ غوښتونکي روڼ اندي او پوه پاچا اعلیحضرت آمان الله خان ځای پیرنگیانو هغه نا لوستي او بدنام لاره وهونکي ته ورکړئ وو چې د افغانانو تاریخ یې سارئ نه شو ښودلای لیکن ډېر ژر له خپل هغه انتخاب نه پښېمانه سول اود لویې تېروتنې احساس یې وکړ.

افغان ولس د انگرېزانو د هغه شرارت څخه کرکه ښکاره کړه او د غله سقاو زوی د لېرې کولو د پاره یې اتحاد وکړ او ډېر ژر یې نومړئ له واکمنۍ څخه لیرې کړ.

څنگه چې اعلیحضرت آمان الله غازي د افغانستان په پیښلیك کي نوی طلایي څپرکئ ور زیات کړیدئ ځکه خو پکاردی چې د افغان نوئ توك كه هغه دنړۍ په هر گوټ کې میشته دي دخپل ملي مشراو روڼ اندي پاچا د اوچت شخصیت په هکله معلومات ولري او د هغوی مینه په زړه کې وساتي.

د لاندو څو کرښو آري لامل او موخه همدا ده چې په افغاني هویت باندې د نوموړي پاچا د ټینگار او د خپل ولس سره دهغوی د زړه د مینې او اخلاص یو لنډ انځور وړاندې کړو. دا اروپایي هېواد (جرمني ) ته د هغوی د سفر یوه ښکلې خاطره ده چې دنا ویشلي هندوستان یو لیکوال مفتي زبیر صدیقي لکنهوي په اثر ( د افغان پاچا امیر آمان الله خان سفرونه ) کې ذ کر شویده. دغه سفرونه په ۱۹۲۸میلادي او ۱۳۰۶ لمریز کې شوي وو.

اعلیحضرت آمان الله خان غازي د دسمبر په میاشت کې جرمني ته ورسېد او په رسمي هستوگنځي ـې چې دحکومت له خواورته ټا ـل شوی وو هستوگن شو. تشریفاتي ـارونه ټول دجرمنیانو له خوا سرته رسیدل.یوه ورځ آلماني میلمه پال اعلیحضرت ته عرض وکړ چې درې ورځې کیږي یوه آلماني کورنۍ چې یوه مور، یوه لوراویو وړوکئ ماشوم هلك دی دلته راځي اوستاسو دلیدلو هیله ښکاره کوي لیکن د وخت د تنگسیا له امله ببر ته ځي....

اعلیحضرت ددې خبرې په اورېدلو خفگان ښکاره کړ او بیا یې بیلہ ځنډه هدایت وکړ چې نوموړې کورنۍ ته اجازه ورکړي چې د هغوی سره ووینې.

څو شېبې وروسته هغه کورنۍ د لیدلو خونې ته را ننوتل او پاچا ورسره د لاس روغبړ وکړ او د کیناستلو اجازه یې ورکړه... د کورنۍ سپین سرې مور خپله لور اوخپل نمسئ داسې معرفي کړه:

دغه مې لور اوددې وړوکي هلك مور ده....،

دې لور مې د یوه افغان سره واده کړئ چې افغان زلمي په جرمني کې زده کړه کوله او له زده کړې وروسته بېرته خپل هېواد افغا نستان ته ولاړ چې زما لور هم ورسره ولاړه او دغه هلك یې هلته په افغانستان کې وزیږېد خو له بده شامته مې زوم د ناروغۍ له امله وفات او لور مې د زوی سره ایکی یوازې پاتې شوه ځکه خو مور دواړه لور او زوی جرمني ته راوستل چې لږ تر لږه هلك لږ زده کړه وکړي. زما خپل میړه مړشوئ دئ او زه هم تقاعد شوې یم او اقتصادي وضع مې هم خرابه ده. لور مې لا کار نه دئ موندلئ . مور او زوی لگښت ته اړتیا لري نو که ستاسو حضور زما دکونډې لور او د دوی د زوی سره څه مرسته لا زمه بولۍ مهرباني به مو وي.

پاچا امیر امان الله خان غازي د سپین سرې آلمانۍ خبرې په ډېره مینه واورېدې او په موسکا یې د هغوی نمسئ په غېږ کې ونیو او ښکل یې کړ بیا یې په همغه موسکا وویل:

زه به همدا نن په برلین کې افغاني سفارت ته لیکلې لار ښودنه وکړم چې د وفات شوي افغان کونډې او ددغه وړوکي هلك سره هره میا شت مرسته وکړي لیکن په یوه شرط چې تا سو با ید را سره وعده وکړۍ ....

هو ! تا سو باید دغه وعده وسپا رۍ چې دغه کوچنئ ښه وپوهوۍ او په بیا بیا ویلو سره ور ته دغه حقیقت په ذ هن کې کېنوۍ چې دئ یو افغان او مسلمان دئ نه یو آلما نئ ...

تا سو ته په کار دي چې دئ د افغان په نوم او دافغاني هویت په درلودلو سره وروزۍ .....ده ته باید دغه خبره تل وریاده کړئ چې د افغاني تومني څخه پیدا او په افغانستان کې زیږېدلئ دئ یاني داچې پلارنۍ خاوره یې افغنستان ده او دئ یو سوچه افغان دئ نه یو جرمنئ ...

په دې وخت کې د هلك مور چې په سترگو کې یې اوښکې راپیدا شوې وې ځکه چې فارسي ژبه یې زده کړې وه اود افغان پاچا اعلیحضرت آمان الله خان غازي په خبرو پوهه شوي وه نو اعلیحضرت ته یې ډاډ ورکړ چې د هغوی په لار ښودنه به عمل کوي ا و په صداقت سره به خپل زوی د هغه د افغاني هویت له حقیقت څخه خبروي او په روزنه ـې به یې تل دغه ټکي په یاد ساتي . په دې ډول افغان پاچا د یو افغان زوي پرې نه ښود چې افغاني هویت بدل شي.

پای.

## لیکونه او شعرونه

زمونږ د هیواد د ځوان شاعر بیکسیار صاحب لیکئ او ښکلی شعر مو تر لاسه کړ.

بیکسیار صاحب په خپل لیکئ کښې یوه سلسله پر ځای نیوکې کړیوې او هم یې وړاندیزونه لیکلي وه. مونږ دده له دغې توجه او علاقې څخه زیا ته مننه کوو او هیله مند یو چې همیشه خپل نظریات او پر ځای مشورې مونږ ته را ولیږې. د ښاغلي بیکسیار صاحب شعر به په کلونو او رمزونو پاڼه کې ولولئ.

*نامه یی ازطرف خواهرگرامی لطیفه جان « سخي» دریافت نمودیم. اینکه نشراشعار وی باعث خوشنودی فراوان او گردیده برای ما جای نهایت مسیرت است. ما به این باوریم که نشریه نوی هیله بتوانند مانند لطیفه جان برای همه جوانان زمینه رشد وانکشاف فکری را مساعد سازد. ما موفقیت های بیشتری را برای شان آرزو میکنیم، اینك چندسطراز نامه او واشعار فرستا ده آن به نشر میسپاریم.*

*نامه... شنیدم که دو قطعه از اشعا رم را به نشر رسانیده اید. نمیدانم به چه کلام از شما اظهار ممنونیت نمایم،؟ ؟ ؟ چرا که قلمم از تحریر حسن نیت شما عاجز میماند. حالا یکی از خوابهایم به حقیقت پیوست، قبلا همیشه فکر میکردم که هرگز چانس اظهار نمودن احساسات خود را ندارم وپر ده یاس به قلبم سایه افگنده اما این شما بودید که به افکارم روشنی بخشیدید.*

*شعرلطیفه جان (سخي) را درصفحه ""کلونه او رمزونه"" میخوانید.*

## زما خلك

**وهاب(سرتېر)**

**د شربت په نامه زار خوري زما خلك**
**چې قدم اخلي گوزار خورې زما خلك**
**د شاباش په نوم هم هرڅوك چې راغلي**
**ترې په سر او په مخ وار خورې زما خلك**

# ګلونه او رمزونه

## قاموس

عبدالمالکځ (بېکسيار)

ډوب په سوداوسي به اوس چيرې چې خوب وړی وم
له چاکاوه مې ستا تپوس چيرې چې خوب وړی وم
وربځوچرکبانګ خواته قبله پريښوه سپوږمی راښکاره
ستوري مې نه شمارتر پنځوس چيرې چې خوب وړی وم
ويښ چې روان شمله، وطن، غيرت، پښتو ياديدل
خاورين پټی يې نوم، ناموس چيرې چې خوب وړی وم
هلته اشنا اشنا هوا د چا د پل د ښکالو
زما په ژبه ليکځ افسوس چيرې چې خوب وړی وم
اشنا لږ سمې کړه دا ستا خبرې سمې ندي
دمينانو په قاموس چيرې چې خوب وړی وم
دقام ددرد ډېرې نورو پهسينه وهلې
بېکسيار هسې يو چاپروس چيرې چې خوب وړی وم
۲۹/۳/..

## نوحه ژړ شه!

ننګ، ډنمارکځ

چا ويل چې کربلا کې اويا تنه شهيدان شول
ماوې وګوره وطن ته ميلونونه شهيدان شول
هلته يو ظالم باچا وو
هلته تنده وه ګرمي وه
خو زما په کورکې ګوره
هم جګړه هم وچکالي ده
د غنمو قيمتي ده
د مرګونو ارزاني ده
جوړ د وينو دريابونه
خو سيندونه شول ډاکونه
چينې جل وهلې ښکاري
ډوډۍ ناسته ګدايی ته
* * *

ټول وطن «حسين»«حسين» دی
هر چنګيز «يزيد»«يزيد» دی
د غضب اوري اورونه
قتلوي د حسين ورونه
يزيدان ورته نخيږي
د آسمان زړه نه سريږي
د وحشت په توپانو کې د انسان بيړۍ ډوبيږي
نوحه! ژړ شه جوړی واخله، د علم تخم ورکيږي
جوړ د وينو دريابونه
خو سيندونه شول ډاکونه
چينې جل وهلې ښکاري
ډوډۍ ناسته ګدايی ته

## هيله

وهاب (سرتېر)

خدايه د هيلو دا تبکی غوټۍ ګلان ړې زموږ
د نېکمرغۍ په لاره ټول ملت روان ړې زموږ
دا د پرديو په لمسون ټوټې ټوټې خلک مې
د وجود غړي د واحد افغانستان کړې زموږ

## ژوند

عبدالخالق (ساپی)

ژوند يو سفر دی او بل څه نه دی
کله پر ځمکه کله آسمان کې
دا يو کاروان دی چې هسې درومي
کله راتم شي او کله روان شي
ژوند يو نظر دی د يار د سترګو
چې پکې وينې مينې او وينې
کله جامونه سره د شرابو
کله لالونه د يار د شونډو
ژوند يو ګړۍ ده هسې تېرېږي
کله په غم کله خوښۍ کې
دا جګېدل او ټيټېدل دي
د هوسونو په دويناګۍ کې
ژوند عبادت دی خپلې ليلا ته
يا په کعبه
يا په سجده کې
يا په جامونو د ميخانه کې
چې هېر يې نه کړې
سقي ګل رنګه
ژوند لوی نعمت دی
چې رب درکړې
«ساپي» ګوره
چې بد يې نه کړې.
۲۰۰۲/۱۱/۸ ويانا

## د حسن څراغ

نصرالله (حافظ)

چې پس له مرګه مې بيا شمعې په مزار بلوې
جانانه! اوس مې ولې زړه باندې انکار بلوې
بې وفا ياره! چې په مينه وفاداره نه شوې
راته په سترګو څله اور د انتظار بلوې
زما د بخت توره جونګړه شي روښانه څنګه؟
ته چې د مخ ډيوه په کور کې د اغيار بلوې
نن له سبا نه تر ماښامه په سينګار مشغوله
څراغ د حسن بيا د چا په افتخار بلوې
ته چې په سرو منګولو سرې غوټۍ د ګلو شکوې
ولې دا سور اور په سرو ګلو د ګلزار بلوې
بهر ته توره تروږمۍ ته او تيندک خوړل دي
څه؟ که په کور کې مشالونه تر سهار بلوې

## خبرتيا، خبرتيا، خبرتيا!

دنوې هيلې درنو لوستو نکو!
ستا سو دوستان کولای شي چې د کابل د ښار په عمومي کتابخانه اودکابل پوهنتون په لويه کتابخانه کي دنوي هيلي جريدې مطالعه کړي. موږ هيله مند يو چې وخپلو دوستانو ته په کابل کي دنوې هيلي دجريدې دلوستلو مشوره ورکړی.
اداره.

## دلوی خدای په نامه

پيرمحمد (کاروان)

شاعران يو په نغمو يادوو خدای
ښکلي ګورو، په ليمو يادوو خدای
خدای بلد کړو د توبو په ماتولو
غرپ کوو له پيمانو يادوو خدای
شيخ د کاڼو په تسپو يادوي خدای
موږ د اوښکو په تسپو يادوو خدای
د ژوندون په ګوتو برګې تسپې وايو
هم په ورځو هم په شپو يادوو خدای
يم هيرجن چې هير مې نه شي راته وايه
ستا له شونډو اننګو يادوو خدای
اياتونه دي په سترګو کې موسکي دي
ستا له سترګو پښتنو يادوو خدای
موږ (کاروان) د ليونو آزادي غواړو
په کړۍ د زولنو يادوو خدای
پېښور ۱۹۹۳

## شاعرانه شپه

لطيفه سخي

راوړه بله به ډيوه کړو جوړه شپه شاعرانه کړو
جام به ډك کړو له کوثرو تېر يادونه به تازه کړو
دملنګ جان بابا ديوان به زير زبر کړو تر سهاره
په ژړا او په ګيلو دا محفل به رنګينه کړو
تسپې لمونځ ورکړه ملاته اوهرڅه واړوه بل خواته
زه اوته به سره يو شوجوړه طريقه دصوفيانه کړو
دعشق‌حرم ته به سلام کړواومقام ته به اقدام کړو
نوم د ليلا او مجنون به يو ځل بيا جاودانه کړو

## طرح

*لطيفه سخي*

*تو دستی و من گل*
*آه که*
*چی وقتی ميرويم در دست آغوشت*

## طرح

*من حباب دور شبابم که در سر آبم*
*مزن سنگ نگاهت بر من*
*که*
*از هم ميپاشم*

## غزل

عبدالمالك (بېکسيار)

له دغه کلي پوروړی ځمه
د چا نظر راسره وړی ځمه
د زلفو شپې مې په زړه اوري اشنا!
دا چې زنګېږم ستړی، ستړی ځمه
وړم پر اوږو د ارمانو جنازه
په پټه خوله چې لکه مړی ځمه
چا په مات نظر د خاورو غېږ ته
په زړه به چوی لکه زړی ځمه
د (بېکسيار) سلام يارانو واخلئ!
سيلی د هجر په مخ کړی ځمه

# قحط سالي ......

کوچه گي ها اول دور انداخته علت گوشه گيري اش را جويا ميشدند. خواو کنايه آميز جواب ميداد کي دوغ را به خواب ديده و ريزش کرده است! او عادتا در پاسخ به آدمهاي سفله و مزاحم چنين جوابهاي مبهم، دو پهلو و بي سر و ته ميداد و اهل گذر، گمان ميکردند که پهلوان هذيان ميگويد و فقر و بي روزگاري مغزش را خراب کرده است. اما پسانتر وقتي که باز هم با سکوت و پاسخهاي گنگ و ناروشن او مقابل ميشدند، دل بالا، بي پروا و بي ترس به گوشش ميخواندند:

«دگه حيدر، حيدرک شده، بالهايش خو کده (خوابيده)، به ديوانه هاي قوشده! ميمانه» اما حيدر گوشش را به زعم خودش، پيش کله خر ياسين بخواند! و آهن سرد بکوبد!

خانه اش در «بالا کوه» بود و هر صبح همين که چمشش به کوه مي افتاد با نگراني مي گفت: يا الله خير! کج تر از دير وز شده، نشه که چپه شوه و خلق خدا ره زير بگيره. غمش غم خودش نبود، غم خلق خدا بود. ميترسيد که اگر آن همه خروار ها سنگ و خاک و سنگريزه ها بر سر خانه هاي مردم بغلتد، چه محشر بر پا خواهد شد. از همه شگفتر انکه فقط و فقط اين خودش بود که تمام خانه ها، ديوار ها، ، کوه ها و کوچه هاي داخل و اطراف شهر را کژ و يک لبه ميديد و خطر افتادن شانرا نه حدس نميزد بلکه حس ميکرد. رهگذرها بي تفاوت و خونسرد از کنارش مي گذشتند و هيچ نشان نميدادند که در اين ترس و بيم با او شريک هستند.

حيدر لا حول ميگفت. چشمانش را ميماليد، با دقتي تمام در حالي که دست چپش دستارش را محکم ميگرفت، از کف کوچه ها تا بلندهاي بامها را خوب از نظر ميگذراند تا به يقين بداند که کيست که درست نميبيند، او يا رهگذر ها، ولي ميديد که حق به جانب خودش است. واقعا ديوارهاي پلاسيده و آماسيده، شکم کرده بودند و آبستن بلايي بي درمان به نظر مي آمدند. آنگاه اندوهناک و سودايي سرش را ميجنباند و ميگفت: ديده باطن کوچه گي ها کور شده است!

بالاحصار، مقر پادشاهان کابل، هر ماه پذيراي پادشاه تازه يي بود و هنوز عرق آن پادشاه خشک نميشد که تازه دم ديگري ميرسيد و با کور کردن يا سر بريدن سلفش، خود بر اورنگ شاهي تکيه ميزد. همين طور در طول کم و بيش يکسال، چندين بار شاه شاه گردشي اتفاق مي افتاد و خانه لانه گنهکاران يا بي گناهان زيادي بر باد ميرفت.

رعيت هم که بازار بگير و ببند و کشت و کشتار را گرم ميديد، به تقليد از شيخ و شهنه و مير و ملک از زمانه کج رفتار رنگ ميگرفت و تا ميتوانست دست به غارت و چپاول و مظلوم آزاري مي آلود.

پهلوان تمام انها را ميديد و از جا نمي جنبيد. سياه سر ها و موسفيدان ميل با هزار ترس و لرز از کوچه ميگذشتند، چه در هر چند قدم، او باشي مزاحم آنها ميشد و پيچه و ردای شان را به بازي ميگرفت. روزي سياه سري آزار رسيده همين که چمش به حيدر مي افتد، بيباک و بي پروا بر او چيق ميزند: گمشو، موش مرده، رنگت ده گور! حيف اي بند و بازو و قد و بالا که خدا به تو داده، بروچادر بپوش، ما و تو، هر دو، بيوه و بي مرد استيم! بايد شوهر بگيريم تا کسي ناموس ها را نگاه کنه از مشابهت نام کلانت بشرم- حيدر، حيدر کرار، شير خدا!

- تو کجا و شير خدا کجا، تو موش خدا استي، تره چنگ چنگ رسيده نامرد!

پهلوان تا بناگوش سرخ ميشود و منقلب. ديگر آب از سر گذشته بود. اين بار نخست بود که عاجزه يي او را طعنه ميزد. خونش به جوش مي آيد و حيدروار صدا ميزند: بي بي، راست گفتي، در سفتي! يا حيدر، حيدري ميکنه يا چادر ميپوشه! همان دم راه آمده را بر ميگردد و سر چارسوق-- همان جايي که چاقوکش ها، چرسي ها و بنگي هاي «ده افغانان» را بر مردم با آبرو مي بريدند و باج بروت مي ستاندند، تک تنها با همه مصاف ميدهد و شکم چند نفر را در چند دقيقه ميدرد. بعد از آن همين که ما بقي فرار ميکنند، با بانگ بسيار بلند و کشيده يي چندان که صدايش در «پايين کوه» و «بالا کوه» مي پيچيد، جار ميزند: او هوي مردم، او هوي مردم! از اي پس، باز خاستگر تان حيدر است- حيدر خان! شنيدين يا ني؟ از امروز ده دکان «عارف کله پز» در بار ميکنم و به عرض و داد تان ميرسم. ريسمان حيدر و گردن گردنکشا!

فرداي آن زنهار هيبتناک، رختهاي معتبرش را که خاص روز هاي پلو خوري بود، ميپوشد.

«لنگي پاچش» را با جغه بي رسا و شفي يک و نيم گزي ميبندد و بعد از گرفتن دعا از ننه پيچه سفيدش، از «بالا کوه» راهيي «پايين کوه» ميشود. چشمش به «آسمايي» و «شير دروازه» مي افتد، مي بيند که آنها استوار و راست ايستاده اند به ديوارهاي سالمند سر کوه نظر مي کند، آنها را نيز سر بلند مي يابد. ديوار هاي داخل کوچه را نيز افراشته و راست مي بيند. به مجردي که چشم کوچه گي ها به او مي افتد. با تواضع و ترس سلام ميکنند و خاضعانه مي گويند: حيدر خان، خوش آمدي، ما نده نباشي!

پهلوان سنگين و لنگر دار جواب سلام ميدهد و حال و احوال يکا يک را ميپرسد. وقتي که خبر جلوس حيدر خان به گوش رفيق قديمش، عارف کله پز معروف به کله خور ميرسد، از خوشحالي مي شگفد و مي گويد: اي والله حيدر خان! به اي ميگن مرد، به اي ميگن پهلوان، عارف، گل صبح کله پزي را جارو و آب پاشي مکند و تختهاي ناروفته و روغن پر را چندان صافي ميزند که بل ميزنند. به شاگردهايش هوشدار ميدهد: بچه ها، سمال! با آدب! امروز و هر روز ديگه اينجه ده پالوي خودم حيدر خان در بار دارن، به عرض و داد مردم ميرسن و حقه به حقدار ميرسانن.

حيدر خان بر تشکچه يي که عارف برايش پهن کرده بود، با تمکين و وقار بر دو کنده زانو مينشيند و اول بسم الله، جمعي از کاکه هاي با ننگ و ناموس منطقه هاي «ده افغانان»، «بالاي کوه» و «نوآباد» را بار ميدهد. براي پاسداري از عزت و آبرو و ملک و مال مردم، هر کاکه را به وظيفه يي ميگمارد.

عارف کله پز ميگويد: نايب حيدر خان تو هستي! بازاره به تو و خدا سپردم. چشم شناخت داري، اول گوش تمام دکانداران هاي گرانفروشه بمال و تراز و هاي پا نگداره جمع کو. پس از او از نرخ و نوا خبر بگي و نمان که يک بام و دو هوا باشه.

به زودي حکومت کاکه ها برقرار ميشود و حيدر و دار دسته اش نام ميکشند. ديگر در کله پزي جاي پا ماندن نمي باشد حاکم جديد به خاطر بچه ترساني، گوش وکيل گذر سابق را که دزدي طرار و گماشته زورآورها بود، براي چندين ساعت به درخت ميخ ميکند و به قاضي، مفتي، مستوفي و داروغه مقيم منطقه اش ميگويد که از اين پس در ولايت او! هحچکاره هستند و اگر کسي زبان به شکوه از آنها باز کرد، وا به جان شان.

ديگر از ملا تا مصلي، از کاسب تا کاتب، از خرپول تا بي پول همه تا نام حيدر خان را ميشنيدند مثل بيد ميلرزيدند. چه او در ظرف چند روز بالهاي زاغي! و سوري! زورگوهاي آن نواحي را کنده بود وديگر احدي جرات نداشت که در مقابل او بالک بزند يا پله بگيرد.

شام که ميشد به امر او دروازه هاي گذر قفل ميشدند و کاکه ها و پاسبانهاي رضاکار در کوچه ها پاس ميدادند و کساني رکه نام شب را نميدانستند، به زندان مي انداختند. بدين منوال به زودي امن و امان بر قرار مي شود وحکومت کاکه ها در تمام شهر نام ميکشد.

چشم آشنا و نا آشنا از ديدن کاکه حيدر که هوشمند و لنگر دار راه ميرفت، ميسوخت و رفته رفته باور ميکرد که اگر خدا نخواسته يک ساعت خواب حيدر دير شود، از «آسمايي» گرفته تا ديوار هاي سر کوه، تا کوچه ها وبازارچه ها همه بي لنگر، بي ثبات و زير زبر ميشوند. از اين سبب بي زور و زر و فرمايش کسي حيدر به «لنگر زمين!» مشهور ميشود- «کاکه لنگرزمين» و مردم به روشني مي ميديدند که: «دو صد مرد جنگي به از صد هزار!»

يکي از روزها، پهلوان آشفته و مو دماغ به کله پزي مي آيد و چنان غرق در ياي وسواس ميبا شد که بر دو شصت پا راه ميرفتند و ميکوشيدند خود را به دمش ندهند. اما «عارف کله خور» که چيزي کم، يک «حيدر ستنگ» بود.ساعتي دروازه کله پزي را از درون مي بندد و ميپرسد: خو بچه وطن، حال که چرا سر که برات آوردي و حيدر خان هر روز نيستي؟

پهلوان طفره ميرود و جواب ميدهد: چيزي نيست فقط دندانم درد ميکنه.

عارف ميگويد: درد دندانش علاجش کندن است! بگويم که خليفه سلماني بيايه و بيغمت کنه؟

حيدر ميخندد و ميگويد: خوب، حالي که اسرار داري، پس گوش کو! ديشو (ديشب) خو (خواب) ديدم که باز پاچا گردشي شده و امير نو، سوار بر خر چابک و مصري، از «دروازه لاهوري» وارد کابل ميشه و يک لشکر بي حساب گيسو حنايي که چشمهاي سبز شان مثل پشکهاي وحشي برق ميزنن، پسا پس داخل شهر ميشن و تمام کابله پر ميکنن، در رکاب پاچا، صداي کوس وکرنا، پرده هاي گوش فلکه کر ميکنه و انبوهي از غلامزاده ها، دلقکها و شعبده باز هاي «بنگاله» و «پتياله» با دهل و دمبک، بوق و سوق وسارسر ناهنر نمايي

باقي در صفحه ۹

## دباميان بودا مجسمو ......

تيوريك بيا جوړونه چې د ګراف، ترسيم، يا اعدادو او ارقامو له مخې عملي کيږي ترسره کوي خو د اصل طبعي بيا جوړونه د لرغوني اثار د ښودلو يعنې «نمايش» په منظور ترسره کيږي چې علمي ارزښت نه لري خو ددې سره يوځای هغه ځانګړي اصول او موازين بايد پلي شي چې د طبعي بياجوړونې له پاره اړين بلل شوي دي.

که د اثر بيا جوړولو د زيات علمي او فني اړخ څخه تېر شو، يوازې د بېلګې په توګه د طبعي بيا جوړونې له پاره د اثر ۵۰ فيصده برخې موجوديت اړتيا ته پام وګرځوو چې په طبعې بيا جوړونه کې يو اصل دی، بيا هم د بودايي مجسمو بيا جوړېدل په طبعي ډول ستونزمن کار دی. د هغو معلوماتو له مخې چې د خپرندويو وسيلو له لارې رسيږي، په ډاګه شوې چې: د بودايي مجسمو د چاودولو وروسته، غټې او ځنې وړې ډبريني ټوټې د يو شمېر پاکستاني قاچاقبرانو په وسيله د باميان څخه د لويو لارو په وسيله پاکستان ته ولېږل شوې او بيا د نورو قاچاقبرانو لاس ته ورغلی. او يو شمېر ټوټې يې د يونسکو په وسله وپيرودل شوې. په هر صورت ددې لويو او وړو ټوټو شته والې چې لږترلږه ۵۰ فيصده يې موجودې دي، اړتيا شته چې ښايې اوس يې د بيا ترلاسه کېدو امکانات نه وي. چې دا په خپل وار د بودايي مجسمو دطبعي بيا جوړونې کار د ستونزو سره مخامخ کوي. ترهغه ځايه چې ښرګنده وه سويسي لرغونپوه پاول بوخر او د هغه په وسيله د يوه ټا ·ل شوي فني ټيم له خوا د بودايي مجسمې بيا جوړونه په باميان کې پيل شوې ده. خو د زياتو لرغونپوهانو له نظره دا بيا جوړونه يوازې يوه تبليغاتي پروژه ده. دا ځکه چې له يوې خوا يې بيا جوړېدل علمي ارزښت نه لري او له بله پلوه يې د ښودلو يعنې «نمايش» له پاره د جوړېدلو امکانات محدود دي. دا هغه مستند فلم پر بنسټ چې د CNN ټلويزوني شبکې له خوا وښودل شوه، پاول بخر غواړي چې دعصري پرمخ تللي ·مپيوټري ترميمي سيستم په مرسته د مجسمې بيا جوړېدل عملي کړي. چې په هغه کې به په زياته پيمانه نوي موادو لکه سمينټ، اوسپنه او نور فلزات وکاروي او دا به يوازې د بودا د لويې مجسمې په لرغوني تاق کې دنوي بودايي مجسمې درول وي او بس.

د بودايي مجسمو د بيا جوړونونکو پام بايد دې ټکي ته واوړي چې په راتلونکو وختونو کې به دا دواړې پېښې چې يو ستر غميزه ددې مجسمو ورانېدل وه او بله نيکمرغه پېښه د هغو مجسمو بيا جوړېدل دي، دا دواړې د تاريخي سترو پېښو په لست کې ياد کړي. په ښرګنده توګه به د لوړې پېښې غندنه وکړي او ددوهمې پېښې وياړنه ووايي خوبياد پام وساتل شي چې راتلونکو مسلکي او فني کارپوهانو ته ددې وياړنې پېښې نيمګړتياوې پرې نه ږدو.

ددې له پاره چې د مجسمو راتلونکې هم ډاډمنه او ارزښتمنه شي لاندې وړانديزونو ته د نړۍ والو فرهنګي موسسو د افغانستان د اوسني دولت او په خاصه توګه د مجسمو دبيا جوړونکو چارواکو پام اړول غواړم!

۱- د يوې نړۍ والې فرهنګي پروژې په توګه دې ددې مجسموبيا جوړېدنه د يو نسکو له خوا ترسره شي.

۲- د مجسمو د بيا جوړېدو له پاره د نړۍ د ټولو هېوادونو او فرهنګی موسسو ملاتړ ترلاسه شي.

۳- يو علمي، فني ګډ کميسون دې، ددې مجسمو د بيا جوړېدو لارې چارې پلان او د عملي کيدو امکانات دې برابر کړي.

۴- په ټول توان دې د پخوانيو مجسمو د ټوټو څخه د مجسمو د بيا جوړېدو پروسه عملي شي نه دا چې يوه نوې مجسمه جوړه شي.

